# فهرست


**بنه راغلاست** **2**

**1. ستاسي موقتي نوی کور** **3**

- ستاسي کرایه 4
- اړین خدمتونه او بلونه 4
- د کور خځلي یا کثافات 6
- عاجلي شمېرې 8

**2. مالي امور، پیسي او ګټي یا بېنېفېټز** **9**

- ستاسي حقوق 9
- ګټي یا بېنېفېټز 9
- پیسو مدیریت یا کنترول 10

**3. سودا او خوراکی توکی** **13**

- آنلاین سودا اخیستل 13
- دخوراکی توکو مرسته 14
- دصحی پیل لپاره واوچر 16

**4. کار او تعلیم** **17**

- کار 17
- تعلیم 18
- د انګلیسي زده کول 20

**5. روغتیایی خدمتونه** **21**

- عمومي داخله ډاکټر پیدا کول 21
- حادثات او عاجلي پېښي 22
- ذهني روغتیا 23

**6. په انګلستان کي ژوند** **24**

- کلتور 24
- د مهاجرینو ملاتړ 25
- لمونځ او دین یا مذهب 26
- ملي رخصتئ او جشنونه 27
- ځایي معلومات، تفریحي کارونه او چکر ځایونه 28

**7. د شخصی ادغام کیدو پلان (پیپس)**

# ښه راغلاست!

ښاغلي/اغلې کرایه نشینه،

دا چې تاسې موقتي کور ته د انتقال په حال کې یاست، مونږ تاسې ته د ویل آف وایټ هارس ناحیې کونسل له طرفه تود ښه راغلاست وایو.

مونږ به د تاسو سره ستاسې په نوي موقتي کور او ګاونډ کې د ځای پر ځای کیدو کې مرسته وکړو. د ښه راغلاست دغه بسته به تاسې ته یو څه اړین معلومات درکړي لکه ستاسې استوګنځي په هکله معلومات، د شاوخوا سیمې په هکله معلومات، او دا چې د خوراک، روغتیا، مکتب، چکر او ورزش لپاره له کوم ځای څخه مرسته ترلاسه کړئ.

تر هغه وخته چې تاسې په بریتانیا کې د خپل ځان لپاره دایمي کور پیدا کوئ په دغه استوګنځي کې به تاسې وکولای شی چې خوندي ژوند وکړئ او د ځایي ټولنې برخه وګرځئ. زمونږ هیله ده چې تاسې د خپلې اړتیا وړ هر څه به ولرئ. مونږ به تاسې سره د همدغه ښه راغلاست بستې په هکله مخامخ خبرې وکړو او که تاسې کومې پوښتنې درلودې هغه به ځواب کړو.

په عین حال کې، مونږ هیله مند یو چې ستاسې نوی کور به تاسې ته د خوندیتوب احساس درکړي او تاسې به په دغه ولسوالۍ کې د ژوند سره ښه بلد شئ.

په درنښت،





ادریانه پارټریج
رئیس عمومي مرستیاله
ویل آف وایټ هارس ناحیې کونسل

# 1. ستاسي موقتي نوی کور

## ستاسو د دايمي کور پيدا کولو په لړ کې راتلونکی ګام

تر هغه چې تاسي د خپل ځان او کورنۍ ددواوسیدلو لپاره دايمي کور پيدا کوئ مونږ تاسي سره مرسته وکړو چې په دغه موقتي استوګنځای کې ځای پر ځای شئ.

تاسي ته به د کوروبو افسر او ټولنيزو چارو ملاتړ کارکوونکی درکړل شي چې له تاسو سره کار وکړي.
د ټولنيزو چارو ملاتړ کارکوونکی به له تاسو سره ځای پر ځای کېدو کې مرسته وکړي، ددغه بستي معلومات به تاسي درته واضح کړي او تاسي سره به کومک وکړي ترڅو تاسي ددې جوګه شی چې یوه دایمي کور ته کډه وکړئ.

د کوروبو افسر به تاسي ته د دايمي کور پيدا کولو لارې چارې وښيي او په دی پروسه کې به له تاسو سره مرسته وکړي.

تر هغه چې تاسي په دغه کور کې ژوند کوی، مونږ غواړو چې تاسي د امکان تر حده راحته واوسئ. دغه بسته به تاسو ته د همدی کور، بريتانيا او دهغی ساحي په هکله چې تاسي په کې اوسېږئ، معلومات درکړي.

مونږ ستاسي د ښه راغلاست لپاره خوراکي بسته تياره کړې او ستاسي نوي موقتي کورکی په اول ماښام کې به مونږ تاسي ته تياره ډوډۍ درکړو.

مونږ به تاسو ته د خريداری کارتونه هم درکړو چې د هغوی په کارولو به تاسي خوراکی توکی او د کور اړين شيان واخيستلای شئ. دا کارت به د یو ځل لپاره درکړل شي **او په راتلونکي کې به د بيا ځل د پاره به مونږ و نه شو کولای چې له تاسو سره د پيسو يا خوړو کومک وکړو. مونږ به تاسي سره د کور مصارفو سنجش يا بودجه سازی کې کومک وکړو ترڅو تاسي خپلې پيسي اداره/کنټرول کړی که چېرې تاسو اوغواړی.**

که تاسو کومه پوښتنه لرئ، د ستاسو ټولنيزو چارو حمايوي آمر له ستاسو سره مرستی ته حاضر ده.

د ستاسي کوروبو افسر ________________________________ ده.

د ستاسي ټولنيز چارو حمايوي آمر __________________________ده.

همدا رنګه تاسو کولای شئ په 01235 422600 شمیری د (3 پهانتخاب) سره اړيکه ونيسئ او د ټولنيزمرکز له ټيم سره خبرې کولای شی.
د دوشنبې څخه تر پنجشنبې د سهار له 8:30 بجو څخه تر 5 بجو پورې ، او دجمعی مه ورځ د سهار له 8:30 بجو څخه تر 4:30 پورې خلاص وي).

### د ستاسي نوي کور ترتيبات

هغه کور ته چې تاسو کډه کېږئ د دفاع وزارت له خوا کونسل ته په موقت ډول په اجاره ورکړل شوی ده، ستاسي د کور مالک کونسل ده او مونږ تاسو ته کور په کرایه درکوو، تاسو کرايه نشين ياست.

تاسو به مونږ ته هره مياشت کرايه راکوئ.
که چېرې تاسو د کور په برخه کې نقدي کومک يا بينيفيټ مستحق ياست د ستاسي ټولنيز چارو ملاتړ کارکوونکی به له تاسو سره د درخواست کولو په هغه برخه کې کومک وکړي. دا به له تاسو سره د کرايې په ورکړه کې مرسته وکړي.

ستاسي د کور د مالک په صفت، مونږ به تاسو ته کوردر ښکاره کړو او له تاسو نه به اوغواړو چې د کرايه نشينی قرارداد امضاء کړئ.

# 1. ستاسي موقتي نوی کور

### د کرایه نشینی قرارداد څه شئ ده؟

- دا د کور څښتن او کرایه نشین د حقوقو او مسئولیتونو په هکله یو حقوقي سند ده، چې د دواړو لورو د خوندیتوب لپاره جوړ شوی ده.
- دا به تاسي ته اوواېي چې ستاسي د کور مالک (کونسل) د څه کولو ژمنه کړې او په دی کور کی د اوسید پر محال ستاسو مسئولیتونه څه دي.
- د موقت اوسیدو قرارداد کې به د کور د وسایلو'سجل کول ' شامل وي. هغه به تاسي ته واضح کړي چې په کور کي کوم وسایل د کورد مالک مربوط دي او دا چې باید همغه وسایل د ستاسي قرارداد ختمیدو نه پس باید په کور کې پاتي شي.
- د ستاسو د میشت کیدو لپاره، مونږ د تاسو لپاره د ضرورت وړ یو تعداد وسایل اخیستی چې تاسي یې په خپل موقت استوګنځي کې کارولی شئ. د هغو شیانو لست مونږ تاسو ته درکړی ده.
- یو تعداد وسایل زمونږ له خوا تاسو ته ډالی شوی دي تاسي کولای شی چې کله تاسو بل کور ته کډه کوی هغه شیان له ځان سره یوسی. د هغو شیانو لست مونږ تاسي ته درکړی ده. که چېري د هغه شیانو له جملې کوم یو یې مات یا ورک شي، په بدل کې یې مونږ به ونشو کولای چې بدل یې درکړو.
- که چېرې تاسو نورو شیانو ته اړتیا لرئ باید په خپلو پیسو یې واخلئ، مونږ به و نه کولای شي چې تاسو ته نورکوم شي درکړی.

## اړین خدمات او بلونه – اوبه، ګاز، برق

**د نل سړی اوبه د څښاک لپاره مناسبې دي.**

ستاسي موقتي کور ته اوبه، ګاز او برق د خصوصي شرکتونو له خوا تهیه کېږي.

- ستاسي اوبو، ګاز او برق مصرف د میټر په واسطه اندازه کېږي. معمولاً کوم شرکتونه چې تاسو ته دغه اړین خدمات عرضه کوي له تاسو څخه به غواړي چې په خپل وخت د میټر نمبر هغوی ته ورکړي ترڅو هغوی وکولای شی چې د مصرف سنجش یې وکړي. دبدیل په ډول کیدای شي چې دوی تاسوته یو سمارټ میټر درکړي.
- کله چې تاسوکور ته انتقال شی، مونږ به د میټر نمبر واخلو او شرکتونو ته به یې ورکړو.
- کله چې تاسي کور ته په کډه انتقال شی مونږ به تاسي ته د میترونوځایونه دروښیو.

- ستاسو د ګاز تهیه کوونکی ________________________________ ده.
- ستاسو د برق تهیه کوونکی ________________________________ ده.
- ستاسو د اوبو تهیه کونکی ________________________________ ده.

که چېرې تاسو ته د بلونو یا پیسو پری کولو کې ستونزه پیدا شي یا د مربوطه خدماتو پهعرضه کې کومه ستونزه پیدا شي، له مربوطهعرضه کوونکي شرکت سره تماس ونیسئ، هغوی به له تاسو سره مرسته وکړي.

ددغې برخې په پای کې د مرستندویه شمېرو لست ده چې په بېړنیو/عاجلو حالاتو کې ورڅخه کار اخیستلای شئ.

- **د کونسل مالیه**

دا پیسې هر کور ځایي کونسل ته ورکوي چې هغوی یې په ځایي خدماتو لکه مکتبونو، کتابخانو او صفایی مصرف کوي. شاید تاسي د مالي مرستی مستحق اوسېدو له کبله کمه مالیه ورکړئ؛ د مثال په توګه: که تاسو کم عاید ولرئ او د 16000 پونډو څخه کمه سپما یا بچت ولرئ. که چېرې تاسي د تخفیف مستحق یاست ستاسي ټولنیز چارو ملاتړ افسر به تاسي سره په دغه برخه کې مرسته وکړي.

# 1. ستاسي موقتي نوی کور

- **د تلويزيون جواز**

تاسي بايد د تلويزون جواز ولرئ ترڅو ژوندی تلويزيوني يا انټرنيټي خپروني اوګورئ – لکه بی بی سی، آی ټي وي ايکس، آل فور ، يوټيوب، امازون پرايم ويډيو، ناو ټي وي.
اړينه ده چي ستاسو د تلويزون جواز ميعاد ختم نه وي ځکه که چېرې پرته له جواز تاسي ژوندی تلويزيونی پروګرامونه ګورئ کېدای شي چی تر 1000 پاونډو پورې جريمه شئ.

**نوټ:** که چېرې تاسي ريکارډ شوي پروګرامونه لکه نيټ فليکس يا ډيزني پلس ګورئ، د تلويزيون جواز ته اړتيا نه لرئ.
د تلويزيون جواز اخيستو لپاره دغه لينک ته مراجعه وکړئ: www.tvlicensing.co.uk

- **بيمه**

کولای شی چي د خپل موقتي کورد 'وسايلو د بيمي' په هکله فکر وکړئ ترڅو د کور وسايلو د تخريب يا غلا په صورت کي حمايه ولرئ. په خپله د کور بيمه (چي د موقت کور ساختمان ته د زيان رسيدو په صورت کي د تاوان مخنيوی لپاره وي) ته تاسو اړتيا نه لرئ ځکه د کور مالک (د ويل آف وايټ هارس ناحيي کونسل) بايد د هغه بيمي بيه ادا کړي.

- **انټرنټ**

تاسو په خپلو پيسو د ځان لپاره انټرنټ اخيستلای شئ. که چېري تاسي د يونيورسل کريډيټ اخلی، د شپږ مياشتو لپاره وړيا د کور براډبنډ لپاره درخواست کولای شئ. د خپل جاب سنټر دکاررهنما يا کار کوچ څخه د نورو معلوماتو غوښتنه وکړئ.

- **ټولنيزې تعرفي**

د هغه کسانو لپاره چي يونيورسل کريډيټ، تقاعد و يا نور امتيازي ګټي يا بېنيفېټز اخلي، ټولنيزې تعرفي د براډبنډ انټرنټ او ټيليفوني اړيکو ارزانه بستي دي. بعضي شرکتونه دغه بستو ته 'ضروري' يا 'ابتدايی' براډبنډ وايي.

**په انګلستان کي موجوده ټولنيزې تعرفي (نرخونه د جون 2023 دي)**

| بسته | مياشتينی نرخ | اوسط سرعت |
|---|---|---|
| بي ټي د کور اړتياوې 2 | 20 پاوند | شاوخوا 67 ميګابيټ في ثانيه |
| اي اي ابتدايي | 12 پاوند | تر25 ميګابيټ في ثانيه |
| ناو ابتدايي براډبينډ | 20 پاوند | 36 ميګابيټ في ثانيه |
| سکای ابتدايي براډبينډ | 20 پاوند | 36 ميګابيټ في ثانيه |
| ويرجين ميډيا اړين براډبينډ | 12.5 پاوند | 15 ميګابيټ في ثانيه |

تاسي بايد معلوم کړی چي کومي بستي ستاسي په سيمه کي موجود دي.

## د موبايل ټيليفونونه

تاسي د خپل ځايي موبايل ټيليفون دوکان څخه د موبايل ټيليفون او سيم کارټ لکه EE، O2 يا Vodafon پيرلی شئ. تاسي له دوه لارو دا خدمات کارولای شئ:

- داسي موبايل واخلئ چي د 'مصرف مطابق لګښت' ورکړئ يعني تاسي د خپلو ټيليفوني اړيکو او ليکل شوي پيغامونو په اندازه لګښت ورکړئ. که چېرې تاسو کمي پيسي لرئ، د 'مصرف مطابق لګښت' موبايل به د مياشتينی معين لګښت په نسبت د تاسو لپاره ډېر مناسب وي. **يا**
- مياشتنی قرارداد وکړئ چي په نتيجه کي تاسي هره مياشت په معيني اندازه پيسي د ټيليفوني تماسونو او ليکلي پيغامونو لپاره ادا کوئ.

# 1. ستاسي موقتي نوی کور

که چېرې تاسو اوس موبایل تیلیفون نه لرئ، کولای شئ یو مستعمل موبایل ترلاسه کړئ. د خپل ټولنیزو چارو ملاتړ افسر سره خبرې وکړئ شاید هغه تاسې د کوم داسې خیریه بنسټ  سره معرفي کړی چې د تاسو سره مرسته وکولای شي.

## ستاسې کور ګرمول

اکثریت کورونه مرکز ګرمی لري، چېرې چې اوبه د ګاز یا برق په واسطه ګرمېږي هلته په ټول کور کې د مرکزګرمیو له لارې ګرځول کېږي. ګاز او برق اوس مهال ډېر قیمته دي. تاسې شاید ځیرک میټر ته اړتیا ولرئ تر څو هر وخت اوګورئ چې څومره مصرف مو کېږي.

### په کور کې دننه د نم یا رطوبت یا خولې چاره کول

بدبختانه، نم او اوبرې (اوبرې يو جالين موجود دی چې په نمجنو ځايونو کې پيدا کېږي) کيدای شی چې دا يوه مسله کيدای شي. حتی د انګلستان په ښه هواداره کورونو کې هم پيدا کېږي. اړينه ده چې خپل کور ته تازه هوا ورکړئ. د پخلي په وخت کې د هوا کش پکې حتماً کاروئ، او تاسو  هڅول کیږی چې وخت ناوخت کړکی خلاصوئ، ښه ده چې د سهار له خوا يې خلاصې کړی او په خاصه توګه د هغو ځايونو چېرته چې خلک خوب کوي.

### څنګه د نم یا رطوبت کچه راټيټولی شم؟

په خپل کور کې يو څه کارونه کولای شئ تر څو دغه احتمالي موضوع کنټرول کړئ.

**د اوبو بخار کچه ټيټه کړئ:** هغه ورځني مهم کارونه چې کم وخت کې ډېرې اوبه مصرفوی لکه پخلی، د لباسونو مينځل او وچول، حمام او غسل کول دي.
**پخلی:** د پخلي ديګونو سرونه پټ ساتئ او چاينکونه د جوش په حالت کې مه پرېږدئ.
**لباسونو مينځل او وچول:** که امکان ولرئ کالي مو په آزاده هوا کې د خشکه شويی له لارې پرېمنځئ. که چېرې آزاده هوا کې خشکه شويي ممکن نه وي نو بيا په يو داسه کوټه کې يې وکړئ چې ښه ګرمه وي اوښه هواکشي ولري، لکه تشناب/حمام.
**کړکی او تندري وچ کړئ:** که دا دواړه لانده شي، د يوی ټوټی په واسطه يې وچ کړی، په مرکز ګرمی او يا هم منقل باندې يې مه وچوی.
**تشنابونه او حمامونه:** تشنابونه او حمامونه ګرم او هوا يې تازه وساتئ.

## د کور چټلی یا خځلې

مونږ به تاسوته د چټليو يا خځلو ټولولو لپاره د کثافاتو سطلونه درکړو، دا سطلونه په دوامداره توګه خالي کېږي. ستاسې په سيمه کې، د هر ډول کثافاتو لپاره بيلابيل رنګ کې سطلونه اينودل شوي دي چې وښايی کوم ډول کثافات په کوم رنګ سطل کی اچول کيږی.

**شين (لوی):** ټول هغه شيان چې د پروسس نه پس بېرته کارول کېږي لکه کاغذي اشياء، کارتن، شيشه، خالي پلاستيکي بوتلونه، بوتلونه، خاورين لوښي، طشتونه او پتنوسونه وغيره. فلزات: ايروسول، کلين ناسوزه کاغذ، د خوراکي توکو قوطي، د خوراکي توکو اوسپنيز يا المونيمي قوطي.

**شين (واړه):** ټول هغه خام او پاخه خواړه لکه اضافه شوي يا سوځېدلي/خراب شوي خواړه.

**تور/خړ:** عمومي کثافات (ټول هغه کثافات چې قابليت د پروسس د دوباره استعمال لپاره ونلري). ډېری کورونه د کثافاتو سطلونو په منځ کې تور رنګ کې پلاستيکي خلطې  کاروي. تاسې کولای شئ دغه خلطې په فروشګاوو يا سوپرمارکېټونو کې واخلئ.

# 1. ستاسي موقتي نوی کور

**نصواري:** د باغچو کثافات (لکه واښه، پاڼي، خپل سري بوټي، ګلان او بوټي، د شاخونو قلم شوي شاخچې، سرونه - (باید د 10 سانتي متر نه غټ نه وي). ددغه خدماتو لپاره اضافي کلنی فیس ده.

تاسو کولای شئ پدی اړه نور معلومات په لاندی ویب سایت کی پیداکړی.
www.whitehorsedc.gov.uk/recycling.

که چېرې کومه پوښتنه لرئ، زمونږ د صفایی شعبي سره د مشورې لپاره تماس نیولی شئ.
تیلیفون. 03000 610610
برېښنالیک یا ایمیل: admin.vale@biffa.co.uk

## عاجلې پېښې او کومک

اړینه ده چې پوه شئ چې د مشکل په وخت کې څنګه کومک ترلاسه کړی.

اور: **که کور کې مو اور ولګید، د کور ټول وګړي د کوره بهر کړئ او هماغلته اوسئ. 999 ته زنګ اووهئ او د اور وژونکو غوښتنه وکړئ. کور ته د شیانو اخیستلو لپاره مه ورځئ.**

د ګازو لیک: که چېرې د ګازو بوی احساس کوئ شاید کوم ځای سوری شوی وي.

- د ګازو عمومي وال پیدا کړئ، ګازو جریان بند کړئ، کړکې او دروازې خلاصې کړئ.
- روښانه برقي شیان مه خاموشه او روښانه کوئ، حتي ګروپونه هم مه روښانه یا خاموشه کوئ (ځکه کولای شي چې اور ولګوي).
- هېڅ سپرغی یا لمبه مه جوړوئ لکه د اورلګید روښانه کول یا د سګرټ روښانه کول.
- د ګازو ملي شبکې عاجلو پیښو ته په 0800 111999 شمېره زنګ اووهئ.

### ګاونډیان

په عموم کې خلک ښه او دوستانه رفتار لري. شاید ستاسي ګاونډیان تاسي ته سلام یا ستړي مه شی اووایي، که تاسي راحته احساس کوئ په ځواب کې تاسي هم ورته سلام کولای شئ. شور ما شور (په خاصه توګه د شپې له خوا) د ستاسي ګاونډیان خواښیني کولای شي.
که چېرې څوک ستاسي کور ته په غیر قانوني توګه داخل شي او یا تاسي ته جدي ستونزې جوړوي، د 999 شمېرې ته زنګ اووهئ او د پولیسو غوښتنه وکړئ.

Vale of White Horse District Council

# 1. ستاسي موقتي نوی کور

## عاجلې د تیلیفون شمېرې

| اداري نوم | د اداري کار | د اداري تیلیفون شمېره |
|---|---|---|
| عاجل یا بېړني خدمات | اور، امبولانس او د پولیسو عاجل خدمات | 999 |
| ملي روغتیایي خدمات (ان اچ اس) | غیر عاجل صحي یا روغتیایي خدمات | 111 |
| پولیس | غیر عاجل جرایمو خدمات | 101 |
| تیمز د اوبو شرکت | د پاکو اوبو تهیه کوونکی او د ناپاکو اوبو لري کولو مسئولیت هم لري | عاجلو پېښو لکه د اوبو بندیدو په صورت کې 0800 316 9800 سره تماس نیسئ |
| د ګازو ملي شبکې عاجلې پېښې | که چېرې کور کې د ګاز په لیک کېدو شکمن یاست، زنګ ورته اووهئ | 0800 111 999 |
| د برېښنا ملي شبکې توزیع او عاجلې پېښې | که چېرې برق مو قطع شي زنګ ورته اووهئ | 105 |
| د ویل آف وایټ هارس ناحیې کونسل | دا محلي اداره ده چې د کونسل مالیات، کثافات دانیو، کورونو او پلانونو مسئوله ده | 01235 422422 |
| د ویل آف وایټ هارس ناحیې کونسل ټولنیز مرکز | دا محلي اداره ده چې هغه خلکو ته مشوره او لاربنوونه کوي څوک چې مالي ستونزې لري یا کوم بل ډول عملی کومک ته اړتیا لري | 01235 422600<br>3 انتخاب کړئ |
| آکسفورډشیر ولسوالی کونسل | دا محلي اداره ده چې د لویو سړکونو، ټولنیز خدماتو او تعلیم په برخو کې کار کوي | 01865 792422 |
| سوها | حفظ و مراقبت او ترمیمات کوي | 01235515900 |
| پناه غوښتونکو ښه راغلاست یا اسایلم ویلکم | خیریه موسسه ده چې مهاجرینو او پناه غوښتونکو سره کومک کوي. | 01865 722082 |
| دمهاجرینو منابع | خیریه بنسټ ده چې د مهاجرینو او پناه غوښتونکو سره مرسته کوي. | 01865403280 |
| یونیورسل کریډیټ | که چېرې تاسې عاید نه لرئ یا کم عاید لرئ، دا تاسې سره نقد کومک کوي تر څو ضروري مصارف وکولای شئ. | 0800 328 5644 |
| ویل کمیونټي امپکټ | وړیا او بې طرفه مالي مشورې ورکوي. | 01235 765348 |

ټول معلومات د 2023 کال تر جون پورې سم دي.